UDI Utlendingsdirektoratet
Norwegian Directorate
of Immigration

# د ښاروالۍ (کمون) د روغتیايي خدمتونو له څانګې سره د شخصي معلوماتو د شریکولو په اړه د هوکړې (موافقې) فورمه

## ۱. موخه

زه د دې فورمې په لاسلیک کولو سره، هوکړه (موافقه) کوم چې د پناه غوښتونکو کمپ چې زه پکې اوسېږم، کولای شي زما په اړه په دوهمه (۲) برخه کې یاد شوي شخصي معلومات

له ښاروالۍ (کمون) سره شریک کړي، تر څو د کمپ کارکوونکي وکولای شي د روغتیايي خدمتونو له څانګې سره د وخت په نیولو کې له ما سره مرسته وکړي

## ۲. کوم شخصي معلومات به ښاروالۍ (کمون) ته ورکول کیږي؟

زه موافقه کوم چې لاندې شخصي معلومات له کوربه ښاروالۍ سره شریک شي

- نوم
- جنس
- دوف (D) شمېره
- د تلیفون شمېره
- برېښنالیک ایمیل

زه پوهېږم چې پخپله هم کولای شم چې د روغتیايي مرستو د ترلاسه کولو لپاره له ښاروالۍ سره اړیکه ونیسم. همدا راز پوهېږم چې زه په خپله خوښه موافقه کوم چې د پناه غوښتونکو کمپ زما شخصي معلومات له ښاروالۍ سره شریک کړي، او که زه موافقه هم ونکړم، بیا هم د روغتیايي مرستې د ترلاسه کولو حق لرم

## ۳. د موافقې په اړه

هوکړه (موافقه) په خپله خوښه ده او تر هغه وخته پورې اعتبار لري چې زه د پناه غوښتونکو په کمپ کې اوسېږم. زه کولای شم د پناه غوښتونکو له کمپ سره د اړیکې په نیولو سره خپله موافقه هر وخت بېرته واخلم

کله چې زه د پناه غوښتونکو له کمپ څخه کډه وکړم، دا موافقه نور اعتبار نلري او هغه فورمه چې زما ټول شخصي معلومات پکې شامل دي، سمدستي د پناه غوښتونکو د کمپ د کارکوونکو لخوا له منځه وړل کیږي

## ۴. حقونه

زه د موافقې په فورمه کې خپلو ثبت شویو شخصي معلوماتو ته د لاسرسي حق لرم. همداراز حق لرم چې معلومات اصلاح او یا یې د پاکولو غوښتنه وکړم. د دې کار لپاره به د پناه غوښتونکو د کمپ له کارکوونو سره اړیکه نیسم

ښاروالی د ارشیف د قانون له مخې د اسنادو د ساتلو مکلفیت لري. دا په دې معنا ده چې له ښاروالۍ سره شریک شوي شخصي معلومات، ښایي د ارشیف کېدلو وړ وبلل شي او له همدې امله باید پاک نه شي بلکې وساتل شي، که څه هم وروسته تاسو خپله موافقه بېرته اخلئ

## ۵. د موافقې تائید

زه تصدیقوم چې د دې هوکړې (موافقې) په شرایطو پوه شوی یم او موافقه کوم چې کمپ زما شخصي معلومات، لکه څنګه چې پورته تشریح شوي دي، له ښاروالۍ سره شریک کړي

| نېټه | ځای |
|---|---|
| | |

_______________________

لاسلیک